بسم الله الرحمن الرحيم

**له حديث شريف سره**

**پر سلام پیل کول د خیر له دروازو څخه یوه دروازه ده**

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « **يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ**». رواه البخاري

*ژباړه: له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:*
***«سپور باید پر پلي، پلی پر ناست او کم شمېر کسان پر ډېر شمېر کسانو سلام واچوي.»***

حافظ ابن حجر په خپل کتاب «فتح الباري» کې ویلي: علماوو د سلام د پیل کولو (لومړی سلام اچولو) حکمتونه داسې بیان کړي چې: د کشر لخوا پر مشر سلام اچول په دې خاطر دي چې کشر مکلف دی چې د مشر احترام او پر وړاندې يې تواضع وکړي، او دا چې لږ شمېر کسان به پر ډېرو کسانو سلام اچوي، دا د جماعت د فضیلت له امله او دا چې سپور به پر پلي سلام اچوي، دا په دې خاطر چې هغه پر خپله سپرتیا تکبر ونه کړي او تواضع ته راوګرځي، په همدې ترتیب... .

**اې مسلمانانو:**

د پورته حدیث د یوې برخې په تفصیل کې؛ پر افرادو باندې د جماعت د حق یا د امت پر افرادو باندې د حزب د حق په اړه لږ تم کېږو؛ کله چې په لږ شمېر کسانو واجب ده چې پر ډېر شمېر کسانو سلام واچوي، نو هغه څه چې تر سلام لوړ دي، د هغه وجوب هم زیات دی. پر دې اساس کله چې یو څوک د یوې ډلې په اړه اوري چې د الله لور ته دعوت کوي او دغه ډله د فقاهت، فکر او علم لرونکې وي، نو دغه کس ته پکار ده چې لومړیوالی وکړي او تر نورو وړاندې دغې ډلې ته سلام ووايي، بیا يې د دعوت، فقهې او فکر په اړه پوښتنه وکړي، بیا دې وګوري، که هغه څه چې دغه ډله ورته دعوت کوي د الله تعالی او هغه د رسول له کلام سره سمون لري، نو له دغه حزب سره دې ملتیا وکړي، دا د خیر هغه ستره دروازه ده چې پیل يې په سلام سره کېږي.

اې الله! د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په منهج خلافت ژر راوله چې په وسیله يې د مسلمانانو ستونزې او ناخوالې له منځه ځي. اې الله په خپل مبارک نور سره ځمکې ته روښنايي وروبخښه. الهم آمین، آمین آمین.

**لیکنه: ابومریم**

**ژباړه: یما افغان**